دافغانستان اسلامی جمهوریت

د سیمه ایـیزو اورګانونو خپلواکه اداره

دننګرهار ولایت

دجلال اباد ښاروالی

# داړیکو او عامه

# ګډون پلان او استراتیژی

**1390** لمریزکال

# سریزه

حکومت او ټولنه دیو بل سره اړیکي،اغیز اومتقابل مکلفیتونه لري. له همدي امله حکومتونه همیشه په دي هڅه کي دي ترڅو د غوره خدمتونو دلیږد، د اتباعو دحقوقو څخه دساتني او ښاریانو ته دژوند داسانتیاوو دبرابرولو له لاري دخلکو سره خپلي اړیکي غښتلي کړي او دعامه خلکو په نظر کي دسیاسي دستګاه باور زیات کړي.

اړیکي او عامه ګډون د مهمو موضوعګانو له ډلي څخه دي ، دافغانستان داسلامی جمهوریت دتمرکز په مرکز کي قرار لري او بیلابیلي پالیسی او قانونونه (لکه اساسی قانون، دافغانستان دملي پراختیا ستراتیژي، د سیمه ایېزو اورګانونو ستراتیژیک چوکاټ او دسیمه ایېزي اداري پالیسي)پر هغي باندی تاکید کوي ترڅودټولني له بیلابیلو پوړونوسره دهراړخیزو او فعاله اړیکو په غزولو سره حکومتي کړني په ټکي په سره دموفقیت مسکو څوکو ته ورسیږي.

په اوسني وخت کي دجلال اباد په ښار کي د اړیکو او عامه ګډون پروسه ډیره کمزوری او په دودیزه توګه پرمخ ځي. دګڼ شمیر رسنیزو او ښوونیزو چینلونو په شتون کي ښاروالي بیا هم یواځی د دولتي رسنیو په چوکاټ کي راګیره ده چي له یوې مخې ددولت په ګټه دخپرونو سیاست پرمخ وړي. همدا لامل دی چي دکمزورتیا ټکي پټ پاتی کیږي او دخلکو نظرونه د ښاروالیو دچارو د ښه والي لپاره په سمه توګه نه رابرسیره کیږي.  دخلکو اوبیلابیلو سازمانونو ګډون دحکومتولی او ښاري پراختیا په برخه کي سمبولیک او محدود دی او همدارنګه دبیلابیلو ګروپونو لکه ځوانان، ښځي، مدني ټولنه، خصوصي سکتور، رسنیو او دښاروالی په چارو کي دنورو فعالینو ونډه تیت او نا منظمه ده. دویلو وړ ده چي ښاري کلتور په خراب وضعیت کي قرار لري او مدني مسولیتونه اوس هم باید خلکو ته ورو پیژندل شي.

د ښاروالی او خلکو ترمینځ د واټن د رایمنځته کیدو په برخه کي داړیکو او عامه ګډون اهمیت ته په پام سره دجلال اباد ښاروالی د افغانستان دسیمه ایيزي حکومتولی- دملګروملتونو پرمختیایی پروګرام په تخنیکي ملاتړ ددغه پلان او ستراتیژی په برابرولو لاس پوري کړ ترڅو ښه حکومتولي چي اطلاعاتو ته دخلکو لاسر او دحکومتولی په چارو کي د هغوی ونډه په کي رانغښتي وي رامینځته کړي.

دغه پلان او ستراتیژي دله دوو عمده برخه څخه جوړ دی ( لومړی اړیکي او دوهم ګډون) او په جلال اباد ښار کي د اړیکو او ګډون دپیاوړي کولو لپاره بیلابیل پروګرامونه او تګلاري وړاندی کوي. په نني عصر کي اړیکي د ګډون لپاره یوه مخکینی اړتیا شمیرل کیږي او دګډون لپاره لاره هواروي. ګډون په دریو کچو وي : ١. داطلاعاتو رسول او اخستل ٢. مشوره ٣. تصمیم نیول. په سلا مشوره، تصمیم نیوني، کړنو، څارني او ارزوني کي هغه وخت دګډون پروسه پیاوړی کولی شو کله چي دواړو اړخونو ته موثق پروخت او کره مالومات په واک کي ورکړل شي. همدغه لامل دی چي اړیکي له یوي سرچینې څخه بلي ته د اطلاعاتو دلیږد د وسیلي په توګه ځانګړی اهمیت لري او په پایله کي یې د یو بامفهومه ګډون رامینځته کیدی شي.

## اوسنی وضیعت:

څرنګه چي دا استراتیژی له دوواساسی موضوع ګانو څخه بحث کوی.نو ښه به دا وی چي دهر یو اوسنی وضیعت بیل بیل تر څیرنی لاندی ونیسو.

## 1. اړیکی:

دجلال اباد ښاروالی د اداری مدیریت په چوکات کی د نشراتو مدیریت لری.

چی موخه یی د شریکانو او همکارانو سره دښاروالی د اړیکو ټینګول دی . سره له دی ددغی استراتژۍ تر ترتیبولو پوری کوم ځانګړی او جامع پروګرام د اړیکو د ټینګولو لپاره نه وه تر سره شوی. د بهرنی ټولنی سره تیتی او نامنظم اړیکی ددی لامل ګرځیدلی چی د خلکواو نورو شریکانو همغږی یی د ښاروالی سره محدود کړی دی. دغه نه همغږی اود مدنی مسولیت نه منل په ښار کې د اطلاعاتي او ښوونیزو آسانتیاوو د نه شتون ته نشي منسوبیدلی.ځکه چی د جلال اباد ښار د زیاتو ګروپی رسنیو،ښوونیز مرکزونو،اطلاعاتي ادارو او مدنی ټولنو څخه برخه من دی.او یادشوی اداری په امن او امان کی خپل ورزنی کارونه مخی ته وړی او په حکومتی مسایلو کی د خلکو د علاقمندی زیاتوالی لپاره ښکاره رول لوبوی.مګردجلال اباد ښاروالی نده توانیدلی چی د رسنیزو فعالیتونو څخه په ګټه اخیستنی خپل ارتباطی مشکلات حل کړی. ددولتي ادارو اطلاعاتو ته دخلکو دلاسرسي پرنسیپ ښاروالی ته ددرناوي وړ دی.اوپه دغه برخه کی ډیر کوششونه هم کړی دی خو بیا هم یو شمیر ستونزی شتون لری. د جلال اباد په ښاروالی کی اړیکی مختلفی برخی لری چی دموضوع د ښه روښانتیا لپاره هر برخه بیل بیل څیړو.

### الف. د مرکزی اداراتو سره اړیکی:

د مرکز په سطحه د ښاروالی ډیری اړیکی د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره او د ښاری پرمختیا وزارت سره دي.چی په عمومی ډول دمکتوبونو او راپورونو له لاری لیږل کیږی. ددی نه علاوه د مدیرانو په سطحه کله کله لیدل کتل هم تر سره کیږی خو درهبری په استازی په سطحه لیدل کتل شتون نه لری . دجلال اباد ښاروالی دبریښنالیک،ویب سایت او فکس رسمی اسانتیاوی د خپلو مامورینو لپاره نلری چی د مختلفوادارو سره په عین وخت کی په تماس کی اووسی.او یا هم ضرورت لرونکی وشی کولای چی ډیر په اسانی سره خپل د ضرورت وړ معلومات تر لاسه کړی.له بل خوا بریښنالیک تر اوسه پوری په دولتی ادارو کی رسمیت نه لری چی د مکتوبونو د انتقال څخه مخنیوی وشي او کاری چټکتیا رامنځ ته شي.

## ب. د خلکو سره اړیکی:

پدی ورستیو کی دجلال اباد ښاروالی پدی برخه کی ډیری هڅی کړی دی د مثال په ډول د جلال اباد دښاروالی د مجلی ترتیبول،د اطلاعاتی تختو نصبول،د حسابورکونی پروګرامونه او عامه مشوری اخیستنه،د ناحیو شوراګانو جوړول او د ښاریانو پوهاوی د ښاروالی د اموراتو څخه په شمول د خریداری ،داجاری قراردادونه او دښاریانو مکلفیتونه د ننګرهار دملی تلویزون څخه نشرته رسیږی.خو دغه دولتی تلویزون د یو خوا په بعضو شیانو باندی پرده اچوی او تریخ واقیعتونو نشر ته نه سپاری او له بلی خوا ډیر کم کتونکی لری نسبت نورو تلویزونونو ته.د ښاروالی د رهبری هیئت لیدل کتل د خلکو سره د ښاروالی د فعالیتونو څخه شمیرل کیږی چی اکثره د خلکو په غوښتنه او کله کله د ښاروالی په غوښتنه ترسره کیږی.د جلال اباد ښاروالی په افغانستان کی د نورو ښاروالیو په پرتله کولای شی چی د عامه پوهاوی یو ښه مرکز اووسی ځکه چی ګڼ شمیر پروګرامونه لری خو بیا هم کافی ندی.باید د ښاروالی ټول کارکونکی دغه موضوع ته په جدی سترګه وګوری او د همدی مطابق عمل وکړی.

## ج. دنورو دولتی اداراتو سره د ولایت په سطحه اړیکی:

فعلآ اړیکی د دولتی اداراتو سره د ولایت په سطحه د ولایت د اداری مجلس،د ولایتی پرمختیای کمیتی مجلسونه او د مکتوبونو تبادلی ترسره کیږی . د ښاری عمومی مجلس د جلال اباد ښاروالی لخوا دعوت او رهبری کیږی ترسو ټول دولتی اداری وکولای شی چی دښاروالی پوری مربوط خپل فعالیتونه دښاروالی د اداری سره شریکه کړی او د ښاروالی د فعالیتونو سره یو ځای کړی.سمه ده چی دولتی راپورونه اوونیز ډول خپریږی خو د هغی خپاره شوی نسخی د ټولو اداراتو سره نه شریک کیږی ځکه چی د هغوی په تعبیر دا یو ډول امریت او مادونیت رامنځ ته کوی په داسی حال کی چی دا همکاری،هماهنګی او همحرکتی رامنځ ته کوی.پلانګذاری حرکتونه بیل بیل صورت نیسی او ښاروالی د ټولو ښاری پروګرامونو څخه خبر ندی ځکه چی د پلانګذاری ګډ مجلسونه نه تر سره کیږی او د نورو اداراتو پلانونه د ښاروالی په عمومی پلان کی نه انعکاس کیږی.د جلال اباد ښاروالی د ولایتی شورا سره هم اړیکه لری چی دغه اړیکه اصلا د ولایتی شورا د خوځښت پوری تړلی ده او ددې پرځای چې د ښاروالۍ دپروګرامونو لپاره ملاتړ را جلب کړی ښاروالي زیاتره وخت یواځی د خپلو فعالیتونو څخه ددفاع کونکی او ځواب ورکونکی موقف ځانته اختیاروي.

### د. دمرستندویوادارو،مدنی ټولنو،خصوصی سکتورونو،تعلیمی ، تحصیلی اودینی ادارو سره اړیکی:

د جلال اباد ښاروالی د پورتنی اداراتو سره اړیکی په لاندی ډول دی

I. د مرستندویو ادارو سره اړیکی یواځی په انفرادی ډول دمختلفو ادارو په غوښتنه او دښاروالی په بلنه ترسره کیږی او داړیکو کوم بل میکانیزم شتون نلری.

II. د فعالو خصوصی سکتورونو سره کله کله لیدل کتل تر سره کیږی خو د نه تعقیببولو له امله یوه اندازه مشکلاتو سره مخامخ کیږی. پرته لدی نه داړیکو پراخه،ښه او موثر میکانیزم د ټولو فعالو خصوصی سکتورونو سره په ښار او هیواد کی د سرمایه ګذاری لپاره شتون نلری

III. پدی ورستیو کی دننګرهارولایت د ښاروالی،پوهنی او د اطلاعاتو او فرهنګ دریاستونو تر منځ یو تفاهمنامه لاسلیک شوه ترڅو دښونځیو د ښاروالیو کمیټو په جوړولو کی مرسته وکړی.اودپوهنتون په سطحه هم یوه تفاهمنامه لاسلیک شوی ده او د پوهنتون دښاروالی کمیټه هم جوړه شوی ده.

### ه. د نورو ښاروالیو سره اړیکی:

د جلال اباد ښاروالی د والسوالیو د ښاروالیو سره تیلیفونی اړیکی لری چی پدی ورستیو کی د افغانستان د سیمه ایزی حکومتداری د پروګرام په همکاری باندی د والسوالیو دښاروالیو یو نیټورک جوړه شوه او دوه ورځنی ورکشاپ هم دوالسوالیو ښاروالانو ته جوړه شوه.

### و.دښاروالی دننه اړیکی:

په ښاروالی کی دبیلابیلو مدیریتونو او واحدونو تر منځ اړیکی نامنظمی دی او داځکه چې هر مدیریت دخپلي اجنډا له مخې حرکت کوي. د سیمه ایزې حکومتولی دپروګرام په ملاتړ د ټیلیفوني او انټرنټي اسانتیاوو په برابرولو سره به دغه اړیکي نورې هم غښتلي شي.دراپور ورکونی او ګروپی کارونو سیستم پوره د مشکلاتو سره مخامخ دی ځکه چی دښاروالی کارکونکی دخپلو راپورونو په شریک کولو دومره دلچسپی نلری او نه داسی میکانیزم وجود لری چی د ښه همغږی او د معلوماتو د شریکولو لپاره یو بل ته راپورونه ورکړی په هم دی دلیل غټې او وړی لاسته راوړنی دننه په ښاروالی کی پټ پاتی کیږی او ښاریان ترینه نا خبره پاتی کیږی.

دپورتنی مواریدو په نظر کی نیولو سره داړیکو پروسه د مشکلاتوپر بناد د جلال اباد په ښاروالی کی په لاندی ډول بیان وو.

- ✓ داړیکو دټینګولو د اسانتیاو نشتوالی لکه(بریښنالیک،ویب سایت،فکس او نور خبری کانالونه)دښاروالی دصلاحیت په حدوداتو کی
- ✓ په دولتی اداراتو کی د بریښنالیک رسمیت نه درلودل
- ✓ د ښاروالی د نشراتوپه مدیریت کی دکارکونکو نه شتون
- ✓ دښاروالی دبعضو مسوولینوضعیفی عقیدی په لاندینی مواریدوکی:
  - I. د معلوماتو شریکول دښاروالی دبیلابیلو واحدونو او نورو اداراتو سره
  - II. د خلکو په ګډون ګ دواقعیتونو ښکاره کول او هغی ته د حل لاری موندل
- ✓ دژوندویواو مخامخ خبری اتری تلویزونی پروګرامونو سره د ښاروالی دمقاماتو نه لیوالتیا
- ✓ دښاروالی دمجلی لبړ تیراژ او ټیټ کیفیت
- ✓ د کورپه کور اطلاع رسونی دپرګرامونو نشتوالی
- ✓ دازادو رسنیو،ښونیځومرکزونواو مدنی ټولنودټپ ظرفیت نه پیژندل او د همغږی نشتوالی
  - I. په دولتی او خصوصی مطبوعاتواوتلویزونی پروګرامونو کی ښاری مسایلواو مدنی روزنو ته کمه پاملرنه
  - II. درسنیو مغلقی ژبی په خاصه ډول په چاپی رسنیو کی
- ✓ دښاروالی د فعالیتونو د انعکاس په اړه د مستند فلمونو او تلویزونی پروګرامونو نشتوالی
- ✓ د حکومت د مرکزی مقاماتو سره د اړیکو د تعقیبولو د پروتوکولونو نه مراعت کول
- ✓ د نورو ښاروالیو سره د اړیکو د ټینګولو لپاره د ارادی نشتوالی
- ✓ د مرستندویو ادارو،خلکو،خصوصی سکتورونو،مدنی ټولنو،تعلیمی او تحصیلی مرکزونو سره د منظمو اړیکو د اهمیت نه پیژندل
- ✓ د ښاریانو د بیسوادی لوړه کچه

## 2. ګډون:

د خبر رسونی او خبر اخیستنی او یا د اړیکو بحثونه پورته بررسی شو.پدی ځای کی د ګډون یعنی مشوره او تصمیم نیونه،پلی کول،ځارنه او ارزونه تر بحث لاندی نیسو.

### الف. مشوره:

د عامه مشورو لپاره د جلال اباد ښاروالی کوم رسمی او پایدار میکانیزم نلری خو مشوری کله کله د بعضو خلکو د استاذو سره صورت نیسی.ښاروالی یواځی خلک ځانته مخاطب بولی حال داچی د ښاری ټولنه د خلکو،مدنی ټولنو،خصوصی سکتورونو،

رسنیو،دولتی ادارو،مرستندویو ادارو،پوهنتونونو او ښوونځیو څخه جوړ شوی دی او ددی ټولو رول او مسوولیت په حکومتداری او ښاری پرمختیا کی باید تر څیړنی لاندی ونیسو.د بیلا بیلو ادارو سره سلاح مشوری نه یواځی دښاروالی څخه د باندی د ادارو په ګټه دی بلکی د ښاروالی لپاره هم دلازیاتو منابعیو دلاسرسی چانس پیداکیږی

### ب.تصمیم نیونه،بودجه جوړه ونه یا شریک کیدل د پلی کول،ځارنه او ارزونی په مصارفاتوکی:

په دموکراتیکو نظامونو کی په تصمیم نیونه،پلی کول،ځارنه او ارزونه کی د خلکو مشارکت مهم او عمده رول لری. د افغانستان حکومت د اصل ته ژمن دی او ډیر کوښښ کوی تر سو دخلکو فعال ګډون په ملی او محلی ګټو کی تامین کړی. مګر د غیر مشارکتی فرهنګ څخه مشارکتی فرهنګ ته د خلکو هڅول وخت ته ضرورت لری. د حکومت او خلکو د ظرفیت ټیټوالی،د سیاسی تعهدونو نشتوالی او نا امنی....... د ډیر وخت د نیولو سبب ګرځیدلی دی.

د جلال اباد ښاروالی د حکومتداری او ښاری پرمختیا پروسی ته په تصمیم نیونی،پلی کول،ځارنه او ارزونی کی ډیرکوښښ کوی خوتر اووسه پوری کومه خاص کار پدی برخه کی ندی ترسره شوی پدی معنی چی پلانونه تراوسه پوری وګړیز بنسټ نلری اومشارکتی هڅی په جامعه ډول د بیلا بیلو اداراتو سره نه تر سره کیږی.دښاری سیمی

اوسیدونکی خپل اړتیاوی او لومړیتوبونه په سمه توګه نه پیژنی.او د خلکو د خبرو اترو پروګرامونه هم پدی برخه کی شتون نلری.

## بنسټ:

د اساسی قانون او نورو قوانینو له نظره ښاروالی د ښاری چارو د اداری او د ښاریانو د عمومی اړتیاوو د تامینولو لپاره جوړشوی دی.ددغی فلسفی پر بنسټ ښاروالی نشی کولای چی د بیلا بیلو ادارو سره د موثر اړیکو او فعال ګډون څخه پرته خپل ماموریت ته په ښه توګه دوام ورکړی او د حکومت د اعتبار د خلکو په وړاندی زیاته کړی تر سو وشی کولای کومه فاصله چی د خلکو او حکومت تر منځ پیداشوی له منځه یوسی او یو پایدار حکومت او ښه امنیت رامنځ شی.

## لید لوری:

شفافه موثره حسابورکونکی او په دموکراتیکو ارزښتونو سمباله ښاروالی ، پوه،رضاکاره او مسولیت منونکی ښاریان او دخلکو په پام کی د حکومت لوړ باور.

## موخی:

- ✓ دحکومتداری او ښاری پرمختیا د پروسی لپاره د موثر اړیکی اودبیلابیلوادارو سره د فعال ګډون د میکانیزم جوړول
- ✓ دښاروالی او نورو واحدونو د تخنیکی او مدیریتی ظرفیتونو لوړول په اړیکو او عامه ګډون کی
- ✓ دښاروالی تجهیزول په ارتباطی وسایلو باندی
- ✓ د رضاکاری،مدنی مکلفیت اختستنی او ښاری ژوند د فرهنګ رواجول
- ✓ د شفافیت،حسابورکونی،نظری اخیستنی،مشوری،د اړتیاوو او مشکلاتو سنجولو له لاری د ښه حکومتداری رواجول
- ✓ د مدنی ټولنی،رسنیو،ښځو،ځوانانو،مرکزی اداراتو،ښاروالیو او نړیوال ټولنو سره د روابطو زیاتول او د هغوی دننه کول د ښاروالی په اموراتوکی

- ✓ د برقی حکومتداری رواجول او د اطلاعاتو د مدیریت عصری کول ترڅو خلک په اسانی سره اطلاعاتواوخدماتو ته لاسرسی پیداکړی

## ارزښتونه او پرنسیپونه:

- ✓ د ټولنی ټول قشرونه پرته د توپیرڅخه به دښاروالی اطلاعاتو ته لاس رسی پیداکړی
- ✓ د ښاروالی ټول کارکوونکی ټولنی ته د اطلاعاتو په ورکولوکی مکلف به وی
- ✓ دښاری واقعیتونو مثبت او منفی اړخونه به ښکاره شی
- ✓ د ښاری ژوند او د ظرفیت د لوړولو لپاره ښاروالی دټولنی دټول قشرونو د سالم نیوکی،اصلاحی او پرمختیایی غوښتنی هرکلی به وکړی
- ✓ مشخص پیغامونه په ساده ژبه د مشخصو خلکو پواسطه به ټول ګروپونو ته انتقال شی
- ✓ په ښاری خدمتونو کی بیلابیل قومونه پرته له کوم توپیر څخه به ګډون وکړی. د مشارکت واقعی معنی عبارت دی د ستونزو په پیژندلو کی برخه اخیستنی او دهغی لپاره د حل لاره پیداکول،دمنابعو تخصیصول،شریک کیدل په مصارفو او مسوولیتنو کی او دا به رواج شی
- ✓ د حسابورکونی،د ښځو دګډون تقویه کول او د مشتریانو د خدماتو لپاره ښاروالی به ژمن وی
- ✓ ښاروالی به جمعی او مشارکتی کارونه رواج کړی او کاری روزنی به د ټولو سره شریک کړی

## مخاطبین،ګټه اخیستونکی ډلی یا خلک:

داړیکو او ګډون په پلان او ستراتیژی کی د مخاطبینو او ډلو یا خلکو پیژندل ډیر ضروری دی.دغه ډلی یا خلک کولای شی چی په مختلفو درجاتو کی رسمی یا غیر رسمی سازمانونه اووسی چی د ښاروالی په اموراتو کی ډیر تاثیر غورځونکی دی یا دښاروالی امورات دوی متاثر کوی. د ښاروالی په اموراتو کی ډیر لوی ګټی اخیستونکی ډلی په لاندی ډول پیژندل شوی دی

- ✓ دسیمه ایزو اروګانونو خپلواکه اداره او مختلف وزارتونه

- ✓ د ولایت مقام
- ✓ دولایت په سطحه دولتی اداری
- ✓ د ولایتی شورا
- ✓ د ولایتی پرمختیا کمیټه
- ✓ د نواحیو امریتونه
- ✓ کلانتران او دخلکو شوراګانی
- ✓ د خلکو ټولنی
- ✓ شوراګانی،دینی مدرسی،ځوانان،تجاران،کسب ګران،علما،متنفذین،سپین ګیری،ښځی،لیکوونکی او شاعران
- ✓ خصوصی سکتورونه
- ✓ مدنی ټولنی
- ✓ رسنی
- ✓ تعلیمی او تحصیلی مرکزونه لکه (ښوونځی،پوهنتونونه،ښوونیز مرکزونه،حرفوی مرکزونه او وړکتونونه)
- ✓ مرستندویه اداری او نړیوالی ټولنی
- ✓ د اوسیدولو ځایونو خلک
- ✓ ځیانمن شوی او ګوښه شوی ډلی (معیوبین،غریبان،بیځایه شوی خلک،کوچیان)

## ارتباطی کړنلاره:

د اطلاعاتو او اړیکو د خپرولو لپاره بیلا بیل کړنلاری شتون لری.کامیاب او ښه اطلاع رسونی هغه وخت امکان لری چی د اطلاعاتو او اړیکو دخپرولو لپاره مناسب لاری و ټاکل شی.د ښه او موثر اړیکو د ټینګولو لپاره لاندنیی کړنلاری باید په نظر کی ونیول شی.

- ✓ د ښاروالی د ویب سایت پرمختیا،مدیریت او دهغی ساتنه او څارنه
- ✓ د ښاروالی کلیدی شعباتو ته د ایمیل ادرس جوړول
- ✓ د عامه پوهاوی او د شکایاتو د ثبتولو لپاره د تیلفونی خدماتو برابرول

- ✓ د ښاروالی د خدماتو د پوهاوی لپاره د پیریدونکی دهرکلی د مرکز جوړول
- ✓ د ښاروالی د رهنمایی لپاره د تخصصی او مشورتی ډلو جوړول
- ✓ د ګرځنده اطلاع رسونی ډلو جوړول
- ✓ د ځوانانو،ماشومانو او کلانترانو رضاکارو ډلو جوړول او د رضاکاری د کلتور رواجول
- ✓ د ښاروالی مجلی او د راپورونو جوړول او خپرول
- ✓ په ښونځیو کی د ښاروالی کمیتی جوړول
- ✓ په پوهنتونونو کی د ښاروالی کمیتی جوړول
- ✓ د نندارتونونو جوړول
- ✓ دخلکو او ښاری ټولنو سره د بیلا بیلو ادارو منظم جلساتو جوړول
- ✓ د ورکشاپونو،سیمینارونو،کنفرانسونو،ګردی میز او نورو پروګرامونو جوړول
- ✓ د عامه پوهاوی لپاره د کور په کور او سرتاسری کمپاینونو جوړول
- ✓ د مستند فلمونو او درامو جوړول او خپرول
- ✓ د خلکو د نظرونو د راټولو لپاره د سروی ګانو برابرول
- ✓ د رادیوی او تلویزونی پروګرامونو جوړول او خپرول
- ✓ د ولایت او حوزو په سطحه د مباحثاتو د غونډو جوړول
- ✓ په ژوندی بڼه دخبرواو اترو تلویزونی او رادیوی پروګرامونو جوړول
- ✓ نورو ښارونو ته دعلمی سفرونو برابرول او د تیلیفونی تماسونو ټینګول
- ✓ د اطلاعاتی تختو،تصویرونو،پوسترونو او علایمو جوړول او نصبول
- ✓ د ښار په بیلابیلو سیمو کی د شکایاتو د صندوقونو نصبول
- ✓ د حسابورکونی دری میاشتنی او کلنی ناستو برابرول
- ✓ د مدنی ټولنو سره د همکاری او دعامه پوهاوی لپاره د ښوونیز مرکزونو جوړول او د مدنی ښوونی رواجول
- ✓ دښاروالی په سطحه د راپورونو او دمعلوماتو د شریکولو دمیاشتنی غونډو جوړول
- ✓ د اطلاعاتو د ثبتولو او ساتلو لپاره د مرکزونو جوړول

- ✓ د هنری او سپورتی مسابقو جوړول
- ✓ د ملا امامانو د نیټورک جوړول او په مسجدونو کی د هغوی له لاری ګټوری تبلیغات کول
- ✓ د ځوانانو،ښځو، قومی او سیمه ایزو مشرانو د نیټورک جوړول
- ✓ د ولایتی شورا،مرستندیو ادارو،انجو ګانو او دولتی ادارو سره د میاشتنو منظمو غونډو جوړول
- ✓ د ښاری اموراتو په اړه د تدریسی موادو برابرول او دهغی لیږدول ښوونځیو او پوهنتونونو ته د تدریس لپاره
- ✓ د مرکز څخه د ښاروال لیدنه او د حکومت د کلیدی مقاماتو سره استراتیژیکی خبری
- ✓ په ارتباطی مسایلو کی د ښاروالی دمسلکی مهارتونو لوړول

## مشارکتی کړنلاره:

د مشارکتی پروګرامونو د تقویه کولو لپاره دلاندینی کړنلارو څخه باید استفاده وشی

- ✓ د ښاری ټولنو او نورو قشرونو په ګډون د ښاری پرمختیا او حکومتداری کمیسیون جوړول
- ✓ د نواحیو او ګذرانو د شوراګانو جوړول
- ✓ د مدنی ټولنی،خصوصی سکتور،ښاری سیمی، خلکو او پوهنتونو ترمنځ د شراکت جوړول
- ✓ ګډ پلانګذاری،بودجه جوړونه،پلی کول،څارنه او ارزونه
- ✓ د مشوری اخیستنی لپاره د مستقیم او ژوندی پروګرامونو جوړول

د اړیکو په پروسه کی بیلابیل اداری شتون لری چی کولای شی د ښاروالی سره ددغی پلان او استراتیژی په پلی کولو کی فعاله ونډه واخلی چی عبارت دی له

- ✓ د اطلاعاتو او کلتور ریاست او د ځوانانو امریت
- ✓ دحج او اوقافو ریاست
- ✓ ولایتی شورا
- ✓ د علماو شورا
- ✓ دافغانستان د حقوق بشر خپلواکه اداره او مدنی ټولنی

- ✓ د زده کړی خصوصی مرکزونه
- ✓ خصوصی سکتورونه
- ✓ پوهنتونونه او تحصیلی عالی موسسی
- ✓ د اقتصاد،کار اواجتماعی چارو او پوهنی ریاستونه
- ✓ د نواحیو امریتونه او د گذر شوراګانی
- ✓ دښاروالی نشراتی مدیریت
- ✓ د ښځو چارو ریاست
- ✓ ازادی رسنی او د ننګرهاری ملی رادیو تلویزون
- ✓ مرستندویه اداری
- ✓ د ولایت مقام د مطبوعاتو مدیریت
- ✓ دښاروالی داخلی اداری

## دپلی کولو،څارنی او ارزونی میکانیزم:

په بریالي توګه ددې تګلارې دپلي کولو په موخه به د عامه اړيکو کميټه او دحکومتولی او ښاري پراختيا کميسيون رامينځته شي. کميټه به دنواحيو دآمرينو، ديونما، ننګرهارپوهنتون، ولايتي شورا، دعلماوو شورا، اطلاعات او کلتور، دننګرهار راډيو تلويزيون، ازادو رسنيو، جامعه مدنی اود شاعرانو او ليکوالانو د انجمن استازي چي چي دښاروالی دنشراتو مديريت به يي مشري کوي. نشراتي مديريت به دارتباطي کړنو په اړه ښاروال ته راپور ورکوي.

د عامه اړيکو کميټه لاندنيي وظايف ترسره کوی

- ✓ دعامه اړيکو پلان او استراتيژی طرحه کول او ليکل
- ✓ د ښاروالی لپاره د تخنيکی مشوری ورکول
- ✓ د تيت او پرک فعاليتونو منظمول او د ښاری پرمختيا او مدنی ښوونی چټکول
- ✓ د بيلابيلو ادارو او ګروپونو ترمنځ د همکاری او ممغږی تقويه کول

- ✓ د ښاروالی د عامه اړیکو د وضعیت څخه څارنه او ارزونه او د پرمخیتای او اصلاحی پیشنهاداتو برابرول
- ✓ د تخنیکی ظرفیتونو د لوړولو لپاره د سهولتونو برابرول او د عامه اړیکو د تقویی لپاره مادی او مسلکی مرستی کول

## دپروګرام پایښت:

دهر پروګرام پایښت یو اساسی موضوع دی چی ددغی موضوع لپاره کولای شو لاندی استراتیژی په کار واچوو.

## مالي پایښت :

ارتباطي فعالیتونه او مشارکت دټولني بیلابیلو برخو ته داطلاعاتو دخپرولو په موخه بودجي ته اړتیالري. جلال اباد ښاروالي تراوسه مالي توانایي نه لري ترڅو په بودجه کي داطلاعاتو خپرولو ته په خپله بودجه کي تخصیص ورکړي.

## د پالیسی تهیه او پلی کول:

دښاري ټولني دبیلابیلو برخو څخه دخلکو دمشارکت په اړه دډاډ ترلاسه کولو لپاره محلي پالیسی، کړنلارې به ترتیب، تصویب او پلي شي.

## عامه خصوصي شراکت :

دلوړ کیفیت لرونکو او دوامداره خدمتونو دعرضه کولو په اړه د اطمینان دترلاسه کولو لپاره ښاروالي کولی شي دخصوصي سکتور سره اړین شراکتونه رامینځته کړي. دغه چاره به دګټه اخستونکو سره دوامداره اړیکي تضمین کړي.

## ضمیمه الف

## د پایلو،څارنې او ارزونې چوکاټ

| شمیره | هدف او مطلوب وضعیت | شاخص | اوسنی وضعیت | موده | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | 1390 | 1391 | 1392 | 1394 |
| اړیکي: | | | | | | | |
| 1 | پراختیا، مدیریت څارنه اوساتنه دښاروالی ویب سایت څخه | دښاروالی دویب سایت شتون (هو:نه) | ښاروالی ویب سایت نلری | ویب سایت به جوړشي | نوی اوتازه معلومات به په دوامداره توګه ځای پر ځای کیږی | نوی اوتازه معلومات به په دوامداره توګه ځای پر ځای کیږی | نوی اوتازه معلومات به په دوامداره توګه ځای پر ځای کیږی |
| 2 | د ایمیل آدرس جوړول۱۰۰٪ کلیدی څانګو ته | فیصدی دهغه څانګو چه ایمیل آدرس لری | یو څانګه هم ایمیل آدرس نلری | ۵۰٪ څانګی به ایمیل آدرس ولری | ۱۰۰٪ څانګی به ایمیل آدرس ولری | | |
| 3 | دعامه پوهاوی او دشکایاتو دثبتولومو څخه دتیلفونی خدمتونو برابرول | دتیلفونی خدمتونو شتون (هو : نه) | تیلفونی خدمتونه شتون نلری | تیلفونی خدمتونه به رامنځ ته شی | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | دښاروالی دخدمتونو په اړه د پیریدونکو لپاره دروزنې دمرکز جوړول | دپیریدونکو لپاره د روزنې د مرکز شتون اوعملی کړنی (هو: نه) | دپیریدونکو لپاره د روزنې مرکز شتون نلری | | دپیریدونکو لپاره د روزنې مرکز به جوړ شی | ښاریان به دپیریدونکو لپاره د روزنې دمرکز دکړنی څخه به خبرشی | |
| 5 | دښاروالی درهنمای لپاره د ۱۰مشورتی او تخصصی ډلو جوړول | دمشورتی او تخصصی ډلو شمیر | هیڅ ډله شتون نلری | ۳ مشورتی او تخصصی ډلی به جوړی شی | ۳ مشورتی او تخصصی ډلی به نوری هم جوړی شی | ۴ مشورتی او تخصصی ډلی به نوری هم جوړی شی | |
| 6 | د دوه ګرځنده خبر رسونی ډلی جوړول | د ګرځنده خبر رسونی ډلی شمیر | هیڅ ډله شتون نلری | | دخبر رسونی لومړی ګرځنده ډله به جوړه شی | دخبر رسونی دوهمه ګرځنده ډله به جوړه شی | |
| 7 | دکلانترانو،ځوانانو او ماشومانو په ګډون د شپږو رضا کارو ډلو جوړول او رضا کاری د فرهنګ رواجول | د رضا کارو ډلو شمیر | هیڅ رضاکاره ډله شتون نلری | | ۴ رضاکاره ډله به جوړه شی | ۲ رضاکاره ډله به جوړه شی | |
| 8 | په لوړ کیفیت سره دښاروالی د مجلی خپرول | د دوه میاشتنی مجلی منظم خپرول (هو: نه) | د ښاروالی مجله په هر دری میاشتو کی یو ځل خپریږی | د ښاروالی مجله به په هر دوو میاشتو کی یو ځل خپره شی | د ښاروالی مجله به په هر دوو میاشتو کی یو ځل خپره شی | د ښاروالی مجله به په هر دوو میاشتو کی یو ځل خپره شی | د ښاروالی مجله به په هر دوو میاشتو کی یو ځل خپره شی |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 9 | په ۱۲ شونځیو کی د دشونځیو دښاروالی کمیتی جوړول | په شونځیو کی د شونځی دښاروالی کمیتی شتون | په شونځیو کی دشونځی د ښاروالی کمیتی شتون نلری | په شونځیو کی دشونځی دښاروالی ۱۰کمیتی به جوړی شی | په شونځیو کی دشونځی دښاروالی۵ کمیتی به جوړی شی | | |
| 10 | په دری پوهنتونو کی (خصوصی او دولتی دپوهنتون دښاروالی) کمیتی جوړول | په پوهنتونو کی د پوهنتون دښاروالی کمیتی شمیر | په پوهنتونو کی د پوهنتون دښاروالی کمیتی شتون نلری | په ننګرهار پوهنتون کی د پوهنتون ښاروالی یوه کمیته به جوړشی | په ننګرهار کی په دوه خصوصی پوهتنونو کی د پوهنتون ښاروالی کمیتی به جوړی شی | | |
| 11 | دکلنی نندارتونونو جوړول | دکلنی نندارتون شتون(هو: نه) | دکلنی نندارتون شتون نلری | | یو دکلنی نندارتون به جوړشی | یو دکلنی نندارتون به جوړشی | یو دکلنی نندارتون به جوړشی |
| 12 | په منظمه توګه دربعوارو وګړیزو ناستو او دتولنی دبیلابیلو استازو سره د انفرادي کتنو ترسره کول. | دربعوارولویو ناستو اومنظمو کتنوترسره کول (هو:نه) | ربعواري لويي ناستي نه ترسره کيږي يواځي نامنظمې کتنې صورت نيسي | | په کال کې څلور لويې ناستې اومنظم ملاقاتونه به ترسره کيږي | په کال کې څلور لويې ناستې اومنظم ملاقاتونه به ترسره کيږي | په کال کې څلور لويې ناستې اومنظم ملاقاتونه به ترسره کيږي |
| 13 | د ۴۲ پروګرامونو (ورکشاپونو، | د ورکشاپونو، سیمینارونو، | د ورکشاپونو، سیمینارونو، | | ۱۴ ورکشاپونو، | ۱۴ورکشاپونو ، | ۱۴ورکشاپونو، سیمینارونو، کنفرانسونو، |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | سیمینارونو، کنفرانسونو، ګردی میزونو اوعامه اوریدنو) جوړول | کنفرانسونو، ګردی میزونواوعامه اوریدنو شمیر | کنفرانسونو، ګردی میزونواوعامه اوریدنو پروګرامونه شتون نلری | | سیمینارونو، کنفرانسونو،ګ ردی میزونو،اوعامه اوریدنو پروګرامونه به جوړ شی | سیمینارونو، کنفرانسونو، ګردی میزونو اوعامه اوریدنو پروګرامونه به جوړ شی | ګردی میزونو اوعامه اوریدنو پروګرامونه به جوړ شی |
| 14 | دښارپه شپږو ناحیوکی دعامه پوهاوی د سراسری او کور په کور کمپاینونوپه لاره اچول | د هغه نواحیو شمیر چی داډول کمپاینونه پکی تر سره شوی وی | هیڅ ډول کمپاین هم نه دی تر سره شوی | په یوه ناحیه دعامه پوهاوی کمپاین به ترسره شی | په دوه نورو ناحیو کی دعامه پوهاوی کمپاین به ترسره شی | په دوه نورو ناحیو کی دعامه پوهاوی کمپاین به ترسره شی | په یوه بله ناحیه کی دعامه پوهاوی کمپاین به ترسره شی |
| 15 | ددری مستند فلمنو او درامو جوړول او خپرول | د مستند فلمنو او درامو شمیر چی تر اوسه پوری جوړ او خپور شوی دی | تر اوسه پوری هیڅ مستند فلم او درامه شتون نلری | | یو مستند فلم یا درامه به جوړ او خپور به شی | یو مستند فلم یا درامه به جوړ او خپور به شی | یو مستند فلم یا درامه به جوړ او خپور به شی |
| 16 | د خلکو څخه د نظرونو درا ټولولو لپاره د۳ سروی ګانو ترسره کول | د خلکو څخه د نظرونو درا ټولولو لپاره دسروی ګانو شمیر | د خلکو د رضایتمندی سروی ندی ترسره شوی | | په کال کی یو ځل د خلکو د رضایتمندی سروی به ترسره شی | په کال کی یو ځل د خلکو د رضایتمندی سروی به ترسره شی | په کال کی یو ځل د خلکو د رضایتمندی سروی به ترسره شی |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 17 | د شپږ تلویزوني او راډیوي پروګرامونو جوړول او خپرول | د تلویزوني او راډیوي پروګرامونو شمیر | تلویزوني او راډیوي پروګرامونو شتون نلری | | ۴ تلویزوني او راډیوي پروګرامونه به جوړ او خپره به شي | ۴ تلویزوني او راډیوي پروګرامونه به جوړ او خپره به شي | ۴ تلویزوني او راډیوي پروګرامونه به جوړ او خپره به شي |
| 18 | د ولایت او د حوزو په سطحه د ۷ غونډو جوړول | د ولایتي او حوزوي غونډو شمیر | هیڅ ولایتي او حوزوي غونډې شتون نلری | | دوه حوزوي او دوه ولایتي غونډې به جوړ شي | دوه حوزوي او دوه ولایتي غونډې به جوړ شي | دوه حوزوي او دوه ولایتي غونډې به جوړ شي |
| 19 | په ژوندۍ بڼه د۱۲ تلویزوني او راډیوي خبرې اترې پروګرامونو جوړول | په ژوندۍ بڼه د تلویزوني او راډیوي خبرې اترې پروګرامونو شمیر | په ژوندۍ بڼه تلویزوني او راډیوي خبرې اترې پروګرامونه شتون نلری | | په هر ربع کې یوتلویزوني اویو راډیوي خبرې اترې پروګرامونه به په ژوندۍ بڼه ترسره شي | په هر ربع کې یوتلویزوني اویو راډیوي خبرې اترې پروګرامونه به په ژوندۍ بڼه ترسره شي | په هر ربع کې یوتلویزوني اویو راډیوي خبرې اترې پروګرامونه به په ژوندۍ بڼه ترسره شي |
| 20 | دنورو ښاروالو دلیدلو لپاره د۴ خلور علمي سفرونو ترتیبول او د ۴۰ تلیفوني اړیکو ټینګول | د علمي سفرونو او د تلیفوني اړیکو شمیر | تر اوسه پورې علمي سفرونه او تلیفوني اړیکې ندي ټینګې شوې | یو علمي سفر او لس تلیفوني اړیکې د والسوالي د ښاروالانو سره به ټینګې شي | یو علمي سفر او لس تلیفوني اړیکې د والسوالي د ښاروالانو سره به ټینګې شي | یو علمي سفر او لس تلیفوني اړیکې د والسوالي د ښاروالانو سره به ټینګې شي | یو علمي سفر او لس تلیفوني اړیکې د والسوالي د ښاروالانو سره به ټینګې شي |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 21 | د ۱۰ اطلاعاتی تختو، د زرګونو تصویرونو او پوسترونو برابرول او نصبول | په منظم ډول د اطلاعاتی تختو،تصویرونو او پوسترونو شتون ( هو:نه) | اوس محال څلور اطلاعاتی تختی نصب شوی | یو د اطلاعاتو تخته او ۲۰۰۰پوسترونه به نصب شی | ۵ د اطلاعاتو تختی او ۳۰۰۰پوسترونه به نصب شی | ۲ د اطلاعاتو تختی او ۳۰۰۰پوسترونه به نصب شی | ۲ د اطلاعاتو تختی او ۳۰۰۰پوسترونه به نصب شی |
| 22 | د ښار په مختلفو برخو کی د عامه د شکایاتو ۳۰صندوقونو برابرول او نصبول | دعامه شکایاتو د صندوقونو شمیر | دعامه شکایاتو صندوقونه شتون نلری | د عامه شکایاتو ۱۵ صندوقونه به جوړ او نصب شی | د عامه شکایاتو ۱۵ صندوقونه به جوړ او نصب شی | | |
| 23 | د حساب ورکونی دکلنیو او دری میاشتنیو غونډو جوړول | د حساب ورکونی کلنیو او دری میاشتنیو غونډو شتون | تراوسه پوری هیڅ ډول کلنی او دری میاشتنی غونډی ندی ترسره شوی | | ۳ دری میاشتنی غونډی او یو کلنی غونډه به جوړ شی | ۳ دری میاشتنی غونډی او یو کلنی غونډه به جوړ شی | ۳ دری میاشتنی غونډی او یو کلنی غونډه به جوړ شی |
| 24 | د عامه پوهاوی لپاره د مرکزونو جوړول، او د مدنی تولنی سره دهمکاریو د دریو پروګرامونو برابرول | د همکاریو د پروګرامونو شمیر | د مدنی ټولنی سره د همکاریو رسمی پروګرامونه او دعامه پوهاوی لپاره مرکزونه | | د مدنی ټولنی سره د همکاریو یو پروګرام به جوړ شی | دوه د عامه پوهاوی مرکزونه به جوړ شی | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | شتون نلری | | | | |
| 25 | دمعلوماتو د شریکولو او دراپور ورکولو میاشتنی غونډی براربرول | دمیاشتنو منظمو غونډو شتون (هو:نه) | میاشتنی منظمی غونډی شتون لری | څلور میاشتنی غونډی به تر سره شی | ۱۲ میاشتنی غونډی به تر سره شی | ۱۲ میاشتنی غونډی به تر سره شی | ۱۲ میاشتنی غونډی به تر سره شی |
| 26 | د ډیتابیس جوړول او د معلوماتو ساتنه | د ډیتابیس او د معلوماتو د ساتلو دسیستم شتون (هو : نه) | د ارشیف څخه پرته کوم بل د ډیتابیس او د معلوماتو د ساتلو سیستم شتون نلری | | دمعلوماتو د ساتنی لپاره به سیستم او ډیتابیسونه به جوړ شی | | |
| 27 | د ښځو هنری او سپورتی سیالیو جوړول | دهنری او سپورتی سیالیو شمیر | هنری او سپورتی سیالی نه دی ترسره شوی | | دوه هنری او سپورتی سیالی به ترسره شی | دوه هنری او سپورتی سیالی به ترسره شی | دوه هنری او سپورتی سیالی به ترسره شی |
| 28 | د عالمانو او ملا امامانو د مشورتی ګروپ جوړول او دهغوی له لاری په مسجدونو کی د پاکی او نظافت تبلیغات | د عالمانو او ملا امامانو د مشورتی ګروپ شتون (هو:نه) | د عالمانو او ملا امامانو دمشورتی ګروپ شتون نلری | دعالمانو او ملا امامانو یوه شپږکسیزه مشورتی ګروپ جوړه شوه | دعالمانو او ملا امامانو لوی مشورتی ګروپ به جوړ شی | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 29 | دقومی او ځایی مشرانو،ځوانانو، او ښځینه مشورتی ګروپونو جوړول | دقومی او ځایی مشرانو،ځوانانو ، او ښځینه مشورتی ګروپونو شتون (هو:نه) | دقومی او ځایی مشرانو،ځوانانو ، او ښځینه مشورتی ګروپونه شتون نلری | | دقومی او ځایی مشرانو،ځوانانو، او ښځینه مشورتی ګروپونه به جوړ شی | | |
| 30 | دولایتی شورا،دونرانو، انجوګانو او دولتی اورګانونو سره د میاشتینی منظمو غونډو جوړول | دمیاشتینی منظمو غونډو شتون (هو:نه) | دیادو شوو ارګانونو سره میاشتینی منظمی غونډی شتون نلری | دیادو شوو ارګانونو سره میاشتینی منظمی غونډی به جوړشی | دیادو شوو ارګانونو سره میاشتینی منظمی غونډی به جوړشی | دیادو شوو ارګانونو سره میاشتینی منظمی غونډی به جوړشی | دیادو شوو ارګانونو سره میاشتینی منظمی غونډی به جوړشی |
| 31 | دښاری اموراتو دمعلوماتو برابرول او د غږ ویشل په پوهنتونونو او ښونیځو کی | دښاری اموراتو دمعلوماتو شتون او د غږ ویشل په پوهنتونونو او ښونیځو کی (هو : نه) | دښاری اموراتو په اړه دمعلوماتو او د غږ ویشل په پوهنتونونو او ښونیځو کی شتون نلری | | | دښاری اموراتو په اړه دمعلوماتو او د غږ ویشل په پوهنتونونو | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | او ښوونځو کی به ترسره شی | |
| 32 | د استراتیژیکی مسایلو په باره کی ددولت د کلیدی استازو سره د ښاروال لیدنه کتنه | د منظمی لیدنی کتنی شتون (هو:نه) | نامنظمی لیدنی کتنی ترسره کیږی | | په هر دری میاشتو کی به یو ځل منظمی لیدنی کتنی ترسره شی | په هر دری میاشتو کی به یو ځل منظمی لیدنی کتنی ترسره شی | په هر دری میاشتو کی به یو ځل منظمی لیدنی کتنی ترسره شی |
| ونډه اخيستنه: | | | | | | | |
| 1 | دحکومتداری او دښاری پرمختیا د کمیسیون جوړول | دحکومتداری او دښاری پرمختیا د کمیسیون شتون (هو:نه) | دحکومتداری او دښاری پرمختیا کمیسیون شتون نلری | دحکومتداری او دښاری پرمختیا کمیسیون به جوړ شی | | | |
| 2 | د دنواحیو او دګذر شوراګانو جوړول | دګذر او دنواحیو د شوراګانو شتون (هو:نه) | دګذر او دنواحیو شوراګانی شتون نلری | په دریونواحیو کی دګذر او دنواحیو شوراګانی به جوړشی | په دریو نورو نواحیو کی دګذر او دنواحیو شوراګانی به جوړشی | | |
| 3 | د خصوصی سکتور،مدنی ټولنی،سمیه ایز خلکو او پوهنتونو سره د شراکتونو | د خصوصی سکتور،مدنی ټولنی،سمیه ایز خلکو او | د خصوصی سکتور،مدنی ټولنی،سمیه ایز خلکو او | د ننګرهار پوهنتون سره د همکاری تړون لاسلیک شوی دی | د خصوصی سکتور او مدنی ټولنی سره به تړونونه لاسلیک شی | | |

| | جوړول | پوهنتونو سره د شراکتونو شتون (هو:نه) | پوهنتونو سره د شراکت شتون نلری | او هم دښاروالی کمیټه جوړ شوی دی | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | دپلانګذاری،بودجی ترتیبول ، تطبیقول دخارنی او ارزونی دمیکانیزم جوړول | دپلانګذاری،بودجی ترتیبول ، تطبیقول، دخارنی او ارزونی دمیکانیزم شتون (هو:نه) | دپلانګذاری،بودجی ترتیبول ، تطبیقول، دخارنی او ارزونی میکانیزم شتون نلری | | دپلانګذاری،بودجی ترتیبول ، تطبیقول، دخارنی او ارزونی میکانیزم به جوړ شی | | |
| 5 | د مشوری اخیستلو لپاره د مستقیمی کرښی پروکرامونو جوړول | دمشوری اخیستلو لپاره د مستقیمی کرښی د پروکرامونو شتون (هو: نه) | دمشوری اخیستلو لپاره د مستقیمی کرښی پروکرامونه شتون نلری | | دمشوری اخیستلو لپاره د مستقیمی کرښی پروکرامونه به جوړ شی | | |

**په درنښت**

**الحاج لعل اغا کاکړ**

**د جلال اباد ښاروال**